# څوک چې له يو مومن څخه يوه دنيوي ستونزه لرې کړي، الله جل جلاله به ترې د قيامت له ستونزو او سختيو څخه يوه لرې کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "څوک چې له يو مومن څخه يوه دنيوي ستونزه لرې کړي، الله جل جلاله به ترې د قيامت له ستونزو او سختيو څخه يوه لرې کړي، او څوک چې د يو تنګلاسي سره نرمي وکړي، نو الله تعالی به په دنيا او اخرت کې ورسره نرمي وکړي او څوک چې پر يو مسلمان پرده واچوي، الله جل جلاله به پرې په دنيا او آخرت کې پرده واچوي، الله تعالی تر هغه وخته پورې د خپل بنده مرسته کوي تر څو چې بنده د خپل ورور مرسته کوي، او چا چې د زده کړې لار ونيوه، نو الله تعالی به ورته د جنت لار اسانه کړي، او هېڅ يو ټولی د الله تعالی په يو کور کې سره د الله تعالی د کتاب په تلاوت او تدريس نه راټولېږي، مګر دا چې سکون به پرې نازل شي، رحمت به يې ويوښي، ملايکې به يې په خپلو وزرونو سره پټ کړي، او الله تعالی يې د هغه کسانو په ډله کې ياد کړي چې له هغه سره دي، او څوک چې د عمل له لارې سست شو يعنې عمل يې کمزوری شو، نو هېڅکله به يې نسب تېز نه کړي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بيانوي چې د الله تعالی سره د مسلمان د عمل بدله د هغه د عمل له جنس څخه ده چې د نورو مسلمانانو سره يې کوي؛ نو چا چې د يو مسلمان څخه يوه دنيوي ستونزه لرې کړه، د الله تعالی بدله به دا وي چې د اخرت له سختيو به ترې يوه سختي لرې کړي. او چا چې د يو تنګلاسي سره اساني وکړه او ستونزه يې ورحل کړه، نو الله تعالی به پرې په دنيا او اخرت کې اساني راولي. او چا چې پر يو مسلمان پرده واچوله، داسې يو څه يې وليدل چې افشا کول يې ښه نه وي لکه: تېروتنه او پېښه خوبېدنه، نو الله تعالی به پرې په دنيا او اخرت کې پرده واچوي. او الله تعالی به تر هغه وخته پورې د بنده مرستندوی وي، تر څو چې بنده په ديني او دنيوي چارو کې د خپل (مسلمان) ورور مرستندوی وي، او مرسته په دعا، ځان، مال او داسې نورو سره کېږي. او څوک چې د شرعي علم د زده کړې په لار کې ووت، په داسې حال کې چې موخه يې د الله تعالی رضا وي، نو پدې سره به ورته الله تعالی د جنت لار اسانه کړي. او هېڅ يو ټولی د الله تعالی په يو کور کې د الله تعالی د کتاب په تلاوت او خپلمنځي تدريس نه راټوليږي، مګر دا چې سکون او عاجزي به پرې نازل شي او د الله تعالی مهرباني به يې ويوښي، پريښتې به يې په خپلو وزرونو سره پټ کړي، او الله تعالی به يې هغه ته په نږدې خلکو کې ستاينه وکړي، او همدا درناوی بنده ته بسنه کوي چې الله تعالی يې په پورتنيو مخلوقاتو يادونه وکړي. د چا چې عمل نيمګړی وي، د هغه چا مرتبې ته به ونه رسېږي چې عملونه يې کړي وي، نو په کار ده چې څوک په نسب او د پلرونو په ښه مخينه بسنه ونه کړي او عمل ترې نيمګړی پاتې نه شي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee